محمد هارون خپل شعشعی

۱۵ جنوری ۲۰۱۳

# په افغانستان کي د یرغلګرو لښکرو
# د بشري ضد او جنګي جنایتو حقوقي شننه
# ۲

### ب ) جنګي جنایتونه

د روم اساسنامي اوومي( ۷ ) مادي غوندي د اتمي ( ۸ ) مادي په اول پاراګراف کي هم د جنګي جنایتود دوو متشکله عناصرو( رسمي پالیسی او پراخوالي ) یادونه سوې ده. په دوهم پاراګراف کي د جنګي جنایتو د تعریف، ډولو او بېلابېلو حالاتو په اړه داسي راغلي دي:

« د دي اساسنامي د اهدافو له مخي، جنګي جرمونه دا مانا لري:

الف ) د جینیوّا یا ژنیو د (۱۹۴۹ع ) کال د اګسټ د دوولسمي نېټي له کنوانسیونوڅخه سخته سرغړونه یاني د هغواشخاصو یا شتمنیو پر خلاف د لاندي عملو کول، چي د جینیوّا د اړوند کنوانسیون د احکامو له مخي، خوندي ګڼل کیږي:

۱- پر خپلسر وژنه؛

۲- د بیالوژیکي تجربو په ګډون، هر ډول شکنجه یا انساني ضد چلن( چلند)؛

۳- په عمدي توګه و چا ته سخت درد رسول یا یې وجود او روغتیا ته شدید زیان اړول؛

۴- د شتمنیو داسي ورانول او مصادره کول، چي د عسکري اړتیاوو له مخي نه، بلکي د قانون ماتووني او لاپروایی په بنه سوي یي؛

۵- د دوښمن په قواووکي و خدمت کولو ته د جنګي اسیر یا بل خوندي کس اړ ایستل؛

۶- پر خپلسر له منصفانه او عادي محاکمي څخه د جنګي بندي یا بل خوندي کس بې برخي کول؛

۷- غیرقانوني شړل( تبعیدول )، لیږل یا بندي کول؛

۸- یرغمل نیول؛

ب ) د بین المللي حقوقو په منل سوي چوکاټ کي د بین المللی شخړو له جنګي قوانینو او تعاملاتو څخه نوري جدي سرغړوني یاني لاندني عملونه:

۱- پر هغو ملکي خلګو یا ځانګړو ملکي کسانو عمدي بریدونه کول، چي په جنګي شخړو او تصادماتو کي مستیقمه برخه نه اخلي؛

۲- پر هغو ملکي تأسیساتو او وسایلو عمدي بریدونه کول، چي عسکري اهداف نه ګڼل کیږي.

۳- پر هغو کارکوونکو، تأسیساتو، موادو، واحدو او موټرو عمدي بریدونه کول، چي د ملګرو ملتو له منشور سره سم د بشري مرستو رسوَني یا سوله ساتني په مأموریت کي برخه لري؛ او تر هغه مهاله د هغه مصوونیت مستحق ګڼل کیږي، چي د وسله والو شخړو د بین المللي حقوقو له مخي و ملکي وګړو او ملکي اهدافو ته ورکول کیږي؛

۴- عمداً و داسي برید ته لاس اچول، چي ښیله شکه د چا د وژل کېدو یا و ملکي خلګو ته د ضرر رسېدو یا و ملکي هدفو او وسایلو ته د تاوان اوښتو یا و طبیعي چاپیر ته د داسي پراخ، اوږد مهاله اوسخت زیان سَوَب ( سبب ) ګرزي، چي د هغه مشخصي او مستقیمي عسکري ګټي له ورایه زیات يي.

۵- په بېلابېلو وسلو پر بې دفاع او غیرنظامي ښارو، کلو، کورو او ودانییو بریدونه او بمباریٔ کول؛

۶- د هغه مخالف جنګیالي وژل یا ټپي کول، چي د وسلې په ګډون يي هر څه په خپله خوښه سپارلي يي؛ او د ځان د دفاع دپاره بل هیڅ شی په واک کي نه لري؛

۷- د متارکي د بیرغ یا د دوښمن د بیرغ، پوځي نخښي، یونیفورم یا د ملګرو ملتو او جینیوّا کنوانسیونو د بېلوونکو نښانو ناسم استعمال، چي له امله يي و چا ته مړینه یا شدید شخصي ضرر اوړي؛

۸ - د اشغالګرو قواوو له خوا په مستقیمه یا غیر مستقیمه بڼه و اشغالي ساحو ته د ملکي وګړو لېږل یا و دغه راز ساحي( دننه یا دباندي ) ته د اشغالي سیمو د ټولو یا ځینو خلګوتبعیدول یا لېږل؛

۹- په لوی لاس پر هغو ودانییو بریدونه کول، چي و دیني، تعلیمي، هونري( هنري )، عِلمي یا خیریه مخسدو، تاریخي آبداتو، روغتونو او هغو ځایو ته وقف سوي يي، چي ناروغان او ټپیان پکښي راغونډیږي( په دې شرط، چي عسکري نخښي او هدفونه نه يي )؛

۱۰- د اسیرو کسانو د بدن د غړو پرې کول یا يي پر وجود داسي طبي او علمي تجربې کول، چي نه يي د عمومي روغتیا، غاښو یا نوري معالجي له اړخه د توجیه او منلو وړ يي؛ او نه يي د بلي روغتیایي ګټي دپاره کیږي، بلکي برعکس يي د مړیني یا روغتیا د سخت زیانمنولوسَوَب ګرزي؛

۱۱- په ټګی او درغلی سره د دوښمن هیواد د خلګو یا اوردو د افرادو وژل یا ټپي کول؛

۱۲- دا اعلامول، چي پر هیچا به رحم او مهرباني ونسي[مخالفین به د بندي کولو پر ځای مستقیماً و وژل سي]؛

۱۳- دوښمن د شتمنییو اوجاړول یا قبضه کول، مګر دا چي دا اوجاړول یا قبضه کول د ناچاری او جنګي اړتیاوو له مخي سوي يي؛

۱۴- په محکمه کي د مخالف لوري د خلګو د حقوقو او اعمالو فسخه کول، ځنډول یا نه منل؛

۱۵- د خپل هیواد پر ضد جنګي عملیاتو کي و برخي اخیستني ته د مخالف لوري د اتباعو اړ ایستل( که څه هم دا اتباع د جګړې تر پیل مخ کي هم د دوښمنو قواوو په خدمت کي يي)؛

۱۶- د کم(کوم ) ښار یا ځای لوټول،که څه هم د جنګ له لاري نیول سوئ يي؛

۱۷- له زهرو یا زهرجنو وسلو څخه کار اخیستل؛

۱۸- د سا بندونکو، زهرجنو او نورو غازو یا نورو ورته مایعاتو، موادو او وسایلو استعمال؛

۱۹- د هغو مردکو یا ګولییو کارول، چي په اسانی سره د انسان په وجود کي پراخیږي او خپریږي؛ لکه کلک خول لرونکي ګولی، چي خپله ټوله مرکزي برخه نه پوښي یا وجود ته د ټپو او پرهارو په جوړولوسره ننوزي؛

۲۰- د هغو وسلو، ګولیيو، موادو او جنګي لارو چارو کارول، چي تر اندازې زيات ضرر يا غيرضروري ربړ او عذاب پېښيي يا د وسله والو نښتو د بين المللي حقوقو د اصولو او قواعدو له مخي، ذاتاً پراخه او عمومي بڼه لري. په دې شرط چي دغه راز وسلي، ګولی، مواد او جنګي لاري چاري ګرده د هراړخيز بنديز په ډله کي راغلي يي؛ او د يو سل و يويشتمي(۱۲۱) او يو سل و درويشتمي (۱۲۳) مادې د مربوطو حُکمو د تعديل له مخي د دې اساسنامي په يوه ضميمه کي شامل يي؛

۲۱- د انساني کرامت پر خلاف جرمونه، په تېره بيا د اهانت او سپکاوي چال چلن؛

۲۲- جنسي تېرى، جنسي مريتوب، جبري فحشا( لکه څنګه چي د اوومي مادې د دوهم پاراګراف په ( و) فقره کي تعريف سوي دي )، جبري اميدواره کول ، اجباري شنډول او د جنسي زور زياتي نور ډولونه ټول د جينيوّا کنوانسيونو سخته سرغړونه ګڼله کيږي؛

۲۳- و هغو ځايو، ساحو او عسکري ځواکو ته د مرستي رسولو په مخسد د ملکي شخص يا نورو خوندي کسانو له حضور څخه استفاده کول، چي په عسکري عملياتو کي برخه نه لري؛

۲۴- په لوی لاس پر هغو ودانيو، موادو، طبي واحدو، ټرانسپورټ او کارکوونکو بريدونه کول، چي له بين المللي حقوقو سره سم، د جينيوّا کنوانسيونو له مشخصو او بېلوونکو نخښو څخه کار اخلي؛

۲۵- د جنګ د يوې وسيلي په توګه، د جينيوّا کنوانسيونو د احکامو له مخي برابر سوو کومکي شيانو د خپلسر بندولو په ګډون، د ژوندي پاتېدو له ضروري شيانو څخه د بې برخي کولو له لاري د ملکي خلګوعمدي وږي ساتل؛

۲۶- په وسله والو ملي ځواکو يا ډلو کي تر پينځلسو کالو کښته کوچنيانو شاملول يا يې په جګړو او نښتو کي له برخي اخيستني څخه استفاده کول؛

ج ) په غير بين المللي وسله والو نښتو او منازعاتو کي د جينيوّا د ۱۹۴۹ع د اګست د دولسمي نېټي په څلورو سرو کنوانسيونو کي د مشترکي دريمي مادې سخته سرغړونه ياني د هغوکسانو په وړاندي د لاندنيو عملو کول، چي په جنګ او تصادماتو کي فعاله برخه نه اخلي. البته، په دې ډله کي د وسله والو قواوو هغه غړي هم شامل دي، چي خپلي وسلي يې پر مځکه ايښي يي يا د ناجوړى، ټپو، توقيف يا داسي نورو عواملو په وجه، په جنګ کي د برخي اخيستني وړتيا نه لري:

۱- د انساني ژوند او وجود په وړاندي زورزياتى، په تېره بيا د وژني ټول ډولونه، د بدن د غړو پرې کول ( مُثلِه کول )، بېرحمانه چلن او شکنجي؛

۲- د انساني کرامت پر خلاف جرمونه، په تېره بيا د اهانت او سپکاوي چلن؛

۳- يرغمل نيوَل؛

۴- د هغي منظمي او باقاعده محکمي له ابلاغ سوي مخکني قضاوت پرته د اعدام د احکامو تصويبول او عملي کول، چي په دغه راز جرايموکي ټول ضروري او منل سوي قضايي ضمانتونه برابريي؛

د ) د دوهم پاراګراف ( ج ) فقره پر هغو وسله والو شخړو تطبيقيږي، چي بين المللي خصوصيت يا ځانګړتيا و نه لري. سره له دې هم د کورني اړودوړ او ناخوالو پر بېلابېلو حالاتو( لکه بنوربنو، د زورزياتي اونورو ورته عملو پر خال خال يا خورو ورو پېښنو) د تطبيق وړ نه ده؛

هـ ) له هغو قوانينو او تعاملاتو څخه نوري سرغړوني، چي د بين المللي حقوقو په منل سوي چوکاټ کي پر غير بين المللي وسله والو شخړو تطبيقيږي ياني لاندني عملونه:

۱- پر هغو ملکي خلګو يا ځانګړو ملکي کسانو عمدي بريدونه کول، چي په جنګو او تصادماتو کي مستقيمه برخه نه اخلي؛

۲- پر هغو ودانييو، موادو، طبي واحدو، ټرانسپورټ او کارکوونکو عمدي بريدونه کول، چي له بين المللي حقوقو سره سم د جينيوّا يا ژنيو کنوانسيونو له مشخصو او ښيلوونکو نخښو څخه کار اخلي؛

۳- پر هغو کارکوونکو، تأسيساتو، موادو، واحدو او موټرو عمدي بريدونه کول، چي د ملګرو ملتو له منشور سره سم د بشري مرستو رسولو يا سوله ساتني په مأموريت کي برخه لري( اوتر هغه مهاله د هغه مصوونيت مستحق بلل کيږي، چي د وسله والو شخړو د بين المللي حقوقو له مخي و ملکي وګړو او ملکي اهدافو ته ورکول کيږي )؛

۴- په لوی لاس پر هغو ودانييو بريدونه کول، چي و ديني، تعليمي، هونري، عِلمي يا خيريه مخسدو، تاريخي آبداتو، روغتونو او هغو ځايو ته وقف سوي يي، چي ناروغان او ټپيان پکښي راغونډيږي( په دې شرط، چي عسکري مرکزونه او هدفونه نه يي)؛

۵- د کم ښار يا ځای لوټول، که څه هم د جنګ له لاري نيول سوئ يي؛

۶- جنسي تېری يا جبري جماع، جنسي مريتوب، جبري فحشا، جبري اميدواره کول ( لکه څنګه چي د اوومي مادې د دوهم پاراګراف په ( و) فقره کي تعريف سوي دي )، جبري شنډول ( عقامت ) يا د جنسي زور زياتي نور ډولونه ټول د جينيوّا د څلورو سرو کنوانسيونو د ګډي دريمي مادې، سخته سرغړونه ګڼله کيږي؛

۷- په وسله والو ځواکو يا ډلو کي تر پينځلسو کالو کښته کوچنيانو شاملول يا په جګړو او نښتو کي د هغو له فعالي برخي اخيستني څخه استفاده کول؛

۸ - په جګړو او شخړو پوري د تړلو دلايلو او اسبابو له مخي د ملکي خلګو د بې ځايه کولو امر، مګر دا چي د ښکېلو ملکي خلګو خونديتوب يا له عسکري پلوه عاجل او ضروري دلايل هم د دغه راز بې ځايه کولو غوښتنه وکي؛

۹- په ټګی او درغلی سره د مخالف جنګيالي وژل يا ټپي کول؛

۱۰- دا اعلامول، چي پر هيڅا به رحم او مهرباني ونسي [مخالفين به د بندي کولو پر ځای مستقيماً و وژل سي ]؛

۱۱- د اسيرو کسانو د بدن د غړو پرې کول يا پر وجود داسي طبي او علمي تجربي کول، چي نه يي د عمومي روغتيا، غاښو يا نوري معالجي له اړخه د توجيه او منلو وړ يي؛ او نه يي دا تجربي د څه بلي روغتيايي ګټي دپاره کيږي، بلکي برعکس يي د مريني يا روغتيا د سخت زيانمنولوسَوَب ګرزي؛

۱۲- د دوښمن د شتمنييو اوجاړول يا قبضه کول، مګر دا چي دا اوجاړول يا قبضه کول د ناچاری او جنګي اړتياوو له مخي سوي يي؛

و ) د دوهم پاراګراف ( هـ ) فقره پر هغو وسله والو شخړو تطبيقيږي، چي بين المللي خصوصيت يا ځانګړتيا و نه لري؛ خو د داخلي اړودوړ او ناارامييو پر ښيلابيلو حالاتو( لکه ښورښو، د زورزياتي اونورو ورته عملو پر خورو ورو پېښو) د تطبيق وړ نه ده. په بله وينا، دا فقره پرهغو وسله والو شخړو او منازعاتو تطبيقيږي، چي اوږده موده د يوه دولت په قلمرو کي د حکومتي ځواکو او منظمو وسله والو ډلو يا د دغه راز وسله والو ډلو په منځ کي پېښيږي.» [۹]

---

**لمنليک**

[9] United Nations, Rome Statute of the International Criminal Court, in force on 1st July, 2002, 5 - 8: http://www.icc-cpi.int/NR/rdonlyres/ADD16852-AEE9-4757-ABE7-9CDC7CF02886/283503/RomeStatutEng1.pdf

پاته په راتلونکي برخه کي